مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

+


پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۳/۰۹/۰۹

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال

# پينځم توک

دوه سوه او اوه شپيتمه پرله پسي برخه

## کندهار

ايډيت:
ډاکټر لودويگ آدمک


AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980


**تګګ**: ۳۸ ــ ۳۱، ۱۷ ــ ۶۶ «الف»: دا د هغو غرونو په منځ کې يو کوتل دى چې د ارغسان دره د کوهٔ دزد په سويل کې د ترنک له درې څخه جلا کوي او له هغهٔ ټکي څخه ۹ مايله ليرې واټن لري چې د ارغسان له درې څخه تر قلات غلزايي پورې سړک له خشک رود څخه تيريږي. هغه سړک چې دې کوتل باندې منتهي کيږي د عمر خان او پير محمد د کليو له منځه تيريږي چې د عمر خان او د وندوز د نالي تر منځ د ټيټو او ځپاندو يا متموجو ټيټو غرونو له منځه په تقاطع تيريږي، بيا له نالي څخه په اوښتلو له څو مايلو مزل وروسته له بولان څخه تيريږي او د آساني لارې له طريقه کوتل ته رسيږي. له دې وروسته د ترنک په درې کې د رباط پر لور کوزيږي او سرخ کلا او نظر محمد څخه اوړي. دا سړک چې د ښنو اوبو د کاريز له څنګه تيريږي په سويلي اړخ کې له کوتل څخه ليرې په دريم مايل کې د مسي په خبره د ټولو وسلو د ليږد لپاره مساعد سړک دى – او د هغه دا نظر د سړک د يوې برخې په هکله د جګړن کليفرډ له نظر سره موافق دى چې نوموړي جګړن د ارغسان او د کوتل تر منځ ليدلي وه؛ خو د غزني د ټولو ځمکنيو ځواکونو د «۱۸۸۰ز کال د مارچ» د ورځنيو ياد داشتونو له مخې چې جنرال بارټر ـ ئې راپور ورکړى دا لاره د پلي او سپاره ځواک لپاره نسبتاً ښه ده؛ خو د عرابه لرونکو جنګي وسايطو د تګ لپاره عملاً د کار نـهٔ ده. له دې لارې څخه هغه قافلې ډير کار اخلي چې د تودې هوا په پيل کې له هندوستان څخه راځي خو په ژمي کې د اڅکزو غلو او لوټمارو له ډاره له دې لارې څخه اجتناب کوي. جګړن کليفرډ وايي چې د تګګ د کوتل له سره د بابا ولي غرونه له ورايه ښکاري او له دې ځايه د کندهار په سترګو نـهٔ راتلل د هوا په وضعيت پورې منسوبوي. بريدمن مسي وايي چې دا ځاى د کندهار ته د هيلوګرافي د سيګنال د ليږلو لپاره غوره ځاى دى. «کليفرډ، پراير، مسي. آي. سي. سي.»

**تګاو**: ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د کندهار د ختيځ په ۱۵ مايلۍ کې معروف ته د تللې لارې په اوږدو کې يو کلى دى. دا د سيند پر غاړې يو لوى کلى دى.َ«ليچ»

* **تاغان**: ۵۴ ــ ۳۱، ۲۹ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د شهر صفا او جلدک تر منځ نيمايي لارې کې، له کندهار څخه تر قلات پورې د سړک د شمال په تقريباً ۴ مايلۍ کې يو کلى دى.

* **تغسپي**: «**تغ اسپي** ــ ژ» [1]: ۵۶ ــ ۳۳، ۱۵ ــ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د يوهٔ سيند پر غاړې يو کلى دى چې د «شيخ ميران» او د دې سيند د يو ځاى کيدنې له ټکي څخه تقريباً ۳ مايله ليرى موقعيت لرى.

---

[1] - TAGHASPI: په متن کې ئـې په عربي الفباء «تغسپي» ليکلي دي چې «تغ اسپي» هم لوستل کيداى سي او زما ژباړونکي په باور دا بايد «تغ اسپي» وي. ځکه په لرغونو مهالونو کې موږ د «اسپ» او «اسپي» نومونو ډير لرو او ښايي دا کوم ډير لرغونى نوم وي. موږ د




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنـې د ليکنيزي بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**تحت گل:** وګورئ: تازي
**تیموریان:** ۳۱ – ۳۱، ۳۹ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د سویل په ۵ مایلی کې د «نـَـو شي جان نهر»، رمباشي ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو» اوسنی نقشي دا نوم د «تیموریان» په ډول لیکي.
* **تینل:** ۲۷ – ۳۳، ۳۱ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «مې مې» [2] د شمال په تقریباً ۳ مایلئ کې د «توره» د سیند پر غاړه یو کلی دی.
**تجاو:** ۳۲ – ۳۱، – ۶۶: دا د ارغسان پر کیني غاړې، له فخرالدین پورته د کندهار د ختیځ په تقریباً ۳۳ مایلئ کې د بارکزیو د ۳۰ کورونو یو کلی دی. «آی. بي. سي.» *اوسنۍ نقشي د «تاج او» [3] نوم ښيي.*
* **تا جَریب:** ۲۹ – ۳۳، ۴۱ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «زرکانک» [4] د سویل په تقریباً ۲ مایلئ کې د ورخان «کج» [5] د سیند پر غاړې یو کلی دی.
**تاجک:** «تاجیک – ژ»: وګورئ: شپږم ټوک
* **تکـلـغو:** «تکل غو»: ۲۱ – ۳۳، ۲۲ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «کجران» د سیند د یوې څانګې پر غاړې، د «ګرِي» [6] د شمال لویدیځ په تقریباً ۴ مایلئ کې یو کلی دی.
**تکري:** «تکه ري - ژ»: دا د سنځلي د نالي یوه ځانګه ده چې له کدني سره یوځای کیږي.«بن»
* **تکتو:** «تکه تو – ژ»: دا د کندهار په ولایت کې د ارغنداب د بند د سویل لویدیځ په تقریباً ۵ مایلئ کې د ارغنداب پر غاړې یو کلی دی.
* **تاخه:** ۱۳ – ۳۳، ۲۶ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې له کجران څخه تقریباً ۲ مایله لیرې یو کلی دی. د دې کلي ختیځ کې «دهانـۀ تاخه» [7] موقعیت لري.
* **تـَـخـمـَـک [8]:** ۱۴ – ۳۲، ۵۰ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «شین غر» او «شاه مردان غر» [9] تر منځ او د «کجور» [10] په لویدیځ کې یو کلی دی.
* **تخمیر:** ۳۱ – ۳۳، ۲ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «غوروچ» [11] د سویل لویدیځ په ۲ مایلئ کې او د «برماني» [12] د شمال په تقریباً ۲ مایلئ کې یو کلی دی.
* **تخت:** ۶ – ۳۴، ۳۸ – ۶۶ «ن»: دا د شهرستان «سیان درې» [13] د سیند پر غاړې د تخت له سیند سره د یو ځای کیدني ټکي ته نیږدې یو کلی دی.
**تخته پل:** ۱۹ – ۳۱، ۵۷ – ۶۵ «ن»: دا د ډورې د سیند پر غاړه یوه کوچنۍ علاقه ده چې له کندهار څخه ۲۲ مایله لیرې د کویټې د سړک پر غاړې واقع ده. دا علاقه ۸ کلي لري چې په یوۀ کلي کې ئـې د ۱۸۷۹ – ۸۰ ز کال په لړ کې د «امیر – ژ» عبدالرحمن یوه پوځې پوسته ځای پر ځای سوې وه. د همدې کال د مې په میاشت کې دلته د بومي پلي ځواک یوه قطعه وه چې د کمپ په سیمې کې ئـې قرارګاه جوړه کړې وه او په همدې اړه یو شمیر ګامونه اوچت سول چې تر قرار ګاه د ختو دیوالونه راتاو او یو مورچل ورته جوړ سو. د عبدالرحمن دا پوسته له مل ماندې څخه ۱۴ مایله او مندي حصار څخه ۱۵ مایله لیرې موقعیت لري.
دا پوسته یوه احاطه لري او د احاطې په هرې خوا کې د څو ګنبدیو یو کتار لري او ظاهراً په ښـۀ شکل کې دي. د احاطې دیوالونه ښـۀ او ټینګ دي او کیدای سي په همدې حالت کې بیا د کار اخیستلو وړ وي. د اوبو اندازه دلته په یوۀ مخ خلاصي نهر کې ډیره ده د پوستې شا ته د اوبو یوه ښه زیرمه هم سته. پوستې ته نیږدې یو جومات او د بقالي یوه هټۍ

---

«اسوه»، «اسپه»، «اسوه ګیني»، «اسپه ګیني» «اسوه که»، «اسپه که» نومونه د بلطیموس، سترابو او آریان په کتابونو کې لرو چې وروسته ئـې په «اوه» او «اوه کیني» ته د وخت په تیریدلو سره تحول موندلی دی؛ ډیري لرغون پوهان د «افغان» نوم له همدغو نومونو څخه مشتق بولي. والله اعلم

2 - Maymay
3 - Tajawu
4 - Zarkanak
5 - Warkhan (Kaj)
6 - Garai
7 - Dahana- i- Takha
8 - TAKHMAK
9 - Shahi Mardan Ghar and the Shin Ghar
10 - Kajur
11 - Ghuruch
12 - Barmanai
13 - Siandara


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ده. په پوستي کي ۲ ده باشي او ۲۰ خاصه داران دي او همدا شان د گمرگي مالياتو يو ماليه ټولونکی هم سته چي له هغو قافلو څخه حق العبور اخلي چي له هند څخه راځي او له دي ځايه تيريږي. «بيټ، آی. بي. سي.»
په تخته پل کي د اوبو د اړتياو د پوره کولو لپاره دائـمي سرچينه سته او دومره کافي اوبـهٔ دي چي د ځمکو د خړوبولو لپاره په کال کي دوه فصله حاصل ته اوبـهٔ ورکړي. په تخته پل کي پسونه، وزې او اوښان په غټ شمير کي دي. د تخته پل استوګن وګړي الکوزي، بارکزي او اڅکزي دي. د تخته پل «معتبر» سړی عبدالحق خان نوميږي چي د «چاګري» «بارکزی» [14] دی. له دې ځايه باروړونکي اوښان تر لاسه کيدای سي. دلته ۶۰ خرواره غنم، ۱۰۰ خرواره بهوسه او ۱۰ خرواره جواري توليد کيدای سي خو وابـهٔ نـهٔ لري.
زړه پوسته د عبدالرحمن کلي ته نيږدې وه او په همدې نامـهٔ يادېدله؛ اوسنی پوسته تر ودانيزو چارو لاندي ده او جوړښت ئـې هماغه د ډبرې د پوستو شکل ته ورته دی، دا پوسته هم زړې پوستي ته نيږدې ده، خو داسي ښکاري چي نن سبا دا پوستي نور د اشخاصو په نومونو نـهٔ بلکه د سيمي يعني د تخته پل د پوستي په نوم يادېږي او په همدې نوم پيژندل کيږي.
دلته د گمرکاتو د دفتر يو مأمور مستقر دی چي د «خرچ ګير» په نوم يادېږي او نوم ئـې عبدالرحمن دی چي دوه تنه ميرزايان لري، دا ميرزايان دنده لري وګوري چي په کومو توکو باندې چي له دې ځايه تيريږي محصول نـهٔ دی لګول سوی. د دوی تر څنګ يو تن حوالدار او شپږ تنه مير صاحب يا پوليسان «په حقيقي معنی د شپي له پلوه ساتونکي» دي او ګوري چي له دې ځايه دې څوک له پاسپورټ پرته تير نـهٔ سي.
تخته پل يوه ښه ګڼ استوګني علاقه ده چي پريمانه اوبـهٔ لري. دا علاقه شپږ نهرونه لري چي د ډورۍ له سيند څخه راجلا سوي دی. په لاندي نومونو:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| i | د حسن زو | | ويالـهٔ | |
| ii | د ميشکي | | ويالـهٔ | |
| iii | د دري | Dari | ويالـهٔ | |
| iv | د پوپلزو | | ويالـهٔ | په ټولو کي لويه ويالـهٔ |
| v | د چغري | Chaghrai | ويالـهٔ | |
| vi | د رحمن | | ويالـهٔ | |

له لومړي تر څلورمي پوري هغه ويالي دي چي د پوستي په سويل کي ځمکي خړوبوي، پينځمه شميره وياله د لويديځ لور ځمکي او هم د عبدالرحمن او محمد صادق کلي چي «سِرای» [15] ته نيږدې دي خړوبوي. پوستي ته نيږدې دري هټی وال دي چي په لږ شمير د اړتيا وړ معمول توکي پلوري. د دې ځای د کورونو بامونه ګنبدي دي.
د ښوراوک له حد څخه د ريګ په ګډون تر تخته پل پوري سيمي باندې د سردار حبيب جان د واک قلمرو «حاکم – ژ» دی چي د کندهار د والي تر لاس لاندې کار کوي. له تخته پل ورهاخوا علاقه د کندهار د قلمرو تر کنټرول لاندې ده.
په دې وروستيو کي له «بـلدَک» [16] (قلعـهٔ جديد) څخه تر تخته پل پوري سړک د سردار حبيب تر مشری لاندې د «زميندارانو» يا ځمکوالو له پلوه ډيره ښـهٔ سوی دی او ويل کيږي چي سردار حبيب په خپله د ډير انظباط سړی دی. «بومي معلومات، ۱۹۰۶»
* **تختاس:** [17]: ۴۲ – ۳۳، ۱۷ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کي د «شيونا قول» [18] په سيمي کي د «اوزموک» [19] د سيند پر غاړې يو کلی دی.
**تختو**: ۲۳ – ۳۲، ۵۴ – ۶۶ «ن»: دا د ارغنداب پر پولو له قلات غلزايي څخه تقريباً ۲ مايله ليري يو کلی دی. «ملوی» *اوسنی نقشي د «تکه تو» او «تک تو» نوم ښيي.*
**تاخم**: ۱۰ – ۳۲، ۲۷ – ۶۶ «ج»: دا د يو شمير کليو د يوې ډلي نوم دی چي خپل نوم ئـې د ميزان د ولسوالی د دَرو په منځ کي يوې درې ته ورکړی دی، د دې درې اوبـهٔ يوهٔ سيند کي راټوليږي او بيا د ارغنداب له کيڼي غاړې سره يو ځای کيږي. د دغو کليو نوري ځانګړتياوې د «ميزان» تر سرليک لاندې مونډل کيدای سي. «آی. بي. سي.»

14 - Barakzai of Chagari
15 - serai
16 - Baldak (Kala -i- Jadid)
17 - TAKHTAS
18 - Shiwnakul
19 - Uzmuk


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

**تکیه:** ۵ – ۳۹، ۱ – ۶۶: دا د ښوراوک په دښته کې د ابوزیو په سویل کې یو ځای دی. هماغسې چې «حسابت» [20] د ابوزیو په سویل لویدیځ کې د ډوری او د شګو د غونډیو تر منځ د رس د خاوري یوه ترانګه ده، نو تکیه هم ظاهراً هغه نوم دی چې د حسابت په مقابل لوري کې د ډوری په کیڼي غاړې کې ځمکي ته ورکړل سوی دی. د ۱۸۷۹ز کال د مارچ په میاشت کې ښاغلی دوک چې په «سید بت» [21] کې د چارو له خلاصولو وروسته د شمال پر لور وخوځید ، همدلته ئې تقویتي ځواکونه ولیدل چې له پشین څخه رالیږل سوي ول. دغه ځواک ته قراګاه له ابوزیو څخه ۳ مایله او په پوتي کې له احمد خان ۱۳ مایله لیرې جوړه سوه. د دې ځای اوبـهٔ چې له ویالو او نهرونو څخه دي پریمانه دي؛ د اوښانو څرځایونه ئـې ښـهٔ دي. د اړتیا وړ توکي له مندوزیو او ابوزیو تر لاسه کیدای سي. «میټلند»

**تکیه:** دا یوه علاقه ده چې د ارغنداب او هلمند تر منځ واقع ده. دلته یوه پوسته هم سته. ښـې اوبـهٔ له دې ځایه تر لاسه کیدای سي. ښایي له دې ځایه ۱۰۰۰ اوښان او د ۵۰۰۰ تر ۶۰۰۰ تنو سرتیرو لپاره د اړتیا وړ توکي ترلاسه سي. «بومي معلومات، ۱۹۰۳»

**تکیر:** ۱۲ – ۳۲، ۳۱ – ۶۶ «ج»: دا د کلیو یوه ډله ده چې خپل نوم ئـې د میزان د ولسوالی یوې علاقې ته ورکړی دی. د دغو کلیو له منځه یو ئـې جمعه خان کلا ته نیږدې، له قلات غلزایي څخه ۱/۲ ۱۵ مایله لیرې د ارغنداب په درې کې تر «سهلوم» [22] د تللي سرک پرغاړې واقع دی چې د «تکیر-ی- جمعه خان» په نوم هم پیژندل کیږي؛ دا ځای په ۱۸۷۹ز کال کې د میزان د حاکم، جمعه خان استوګن ځای وو. تکیر د جمعه خان او میزان تر سرلیکونو لاندې ډیر شرحه سوی دی.

* **تاله:** ۴۵ – ۳۳، ۲۵ – ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «کوهٔ نیله» په لویدیځ کې «قطـغـه» [23] ته نیږدې د یوهٔ سیند پر غاړې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی د آجرستان د سیند پر غاړې دی چې د روزګان په ولایت کې د بمبلستان د سویل ختیځ په تقریباً ۵ مایلی کې په ۲۵ – ۳۳، ۴۰ – ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.

* **تلخک:** ۴۳ – ۳۳، ۲۴- ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «کوهٔ قول-ی- غر» [24] په لویدیځ کې د «سمانکه» [25] د سیند پر غاړې یو کلی دی.

* **تالقان:** ۲۷ – ۳۱، ۱۹ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ډوری د سیند پر غاړې یو کلی دی چې له ارغنداب سره د ډوری د سیند د یو ځای کیدني د ټکي د لویدیځ په تقریباً ۸ مایلی کې موقعیت لري. په دې نوم یو بل کلی شمال ختیځ لور ته ۲ مایله وړاندې واقع دی.

* **تمزان:** تمه زان: ۳۹ – ۳۳، ۳ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «راه قول» کلي ته نیږدې د هلمند د سیند د یوې ښاخګي پر غاړې یو کلی دی

* **تمبیل:** ۱۰ – ۳۲، ۳۶ – ۶۵ «ن» دا د روزګان په ولایت کې د شین غر په سویل کې د «بُم» د شمال په تقریباً ۵ مایلی کې یو کلی دی.

**تانه بانه:** – ۳۱، – ۶۵: دا د کندهار د شکارپور له دروازې دباندې یو کلی دی. «بیسکو»

* **تنابید** :یا: تناباد: [26]: ۳- ۳۴، ۳۸ – ۶۵ «ن»: دا د روزګان دولایت په شمال کې نو آباد ته نیږدې د یوهٔ سیند پر غاړې یو کلی دی.

* **تنه چاه:** ۱۲ – ۳۲، ۵۹ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د قلات د شمال ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلی د یوهٔ سیند پر غاړې یو کلی دی.

* **تنه جوی:** تنه چوی: [27]: دا د کندهار په ولایت کې د «فصیل» [28] په شمال کې د سرک پر غاړه د چنار د شمال ختیځ په تقریباً ۸ مایلی کې یو کلی دی.

**تنده:** ۳۰ – ۳۱، ۳۳ – ۶۷ «ن»: دا هغه سیند دی چې د نخاس د غرنی لړی په شمالي ډډو کې راپورته کیږي او مخ پر شمال د کند د سیند پر لور بهیږي، دا سیند له تقریباً ۲۰ مایلو مزل وروسته د رشید په کلا کې د کند سیند ته ورغورځي. د سیند په کوزنیو برخو کې پریمانه اوبـهٔ بهیږي او د سیند په دواړو غاړو کې ځمکي کرل سوي دي. د سیند د بهیدا د

---

20 - Hisabat
21 - Saiadbut
22 - Sehlum
23 - Qategha
24 - Koh -i- Kul -i -Ghar
25 - Samanka
26 - TANABID Or TANABAD
27 - TANACHUI
28 - Fasil


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پورتني تقريباً ۵ مايلۍ کې د «جـُـلـُـنډُر کلا» [29] اساسي کلی دی. د «باريکه د کوتل» له لارې يو سړک او بل ئې د «پَش غبرګي» [30] کوتل له لارې ناله باندې منتهي کيږي. «بن»

* **تندور:** ۳۸ ــ ۳۲، ۳۷ ــ ۶۵ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د دهراود د ختيځ په تقريباً ۱۰ مايلۍ کې د تيرين د سيند پر غاړې يو کلی دی.

**تندوکي:** ۱۵ ــ ۳۱، ۱۱- ۶۶ «ج»: دا ځای کمپبل يادوي او وايی چې د بيدک د کمپ له سيمې څخه تقريباً ۲ يا ۳ مايله ليرې د «برغانې د کوتل» پر لور له کويټې څخه تر کندهار پورې د سړک پر غاړه واقع دی. دلته هيڅ کلی نـۀ سته خو يو ښـۀ کاريز سته. دلته اوبـۀ، د اوښانو څرځايونه او سون لرګي پريمانه دي ، او هماغسې چې تر «دۀ نو» لاندې ليدل کيږي، د کمپ سيمه د برغانې پر لارې د واټن د ويش له اړخه ښايي آسانه او هوسا وي. «کمپبل»

**تنګه:** ــ ۳۱، ــ ۶۷: دا يوه ناله د ه چې مخ پر سويل کوزيږي او له بيان زيو کوز له کډني سره يوځای کيږي. دا ناله د خواجه زيو بارکزيو ده. «بن»

* **تنګی:** په دې نوم څو ځايونه په لاندنيو موقعيتونو کې واقع دی:
۴ ــ ۳۲، ۵۳ ــ ۶۵ «ن» ؛ ۵۸ ــ ۳۲، ۴۵ ــ ۶۷ «الف»؛ ۱۲ ــ ۳۲، ۵۴ ــ ۶۵ «ن»؛ ۸ ــ ۳۲، ۵۲ ــ ۶۵ «ن»؛ ۳۳ ــ ۳۲، ۴۶ ــ ۶۵ «ن»؛ ۱ ــ ۳۳، ۴۸ ــ ۶۶ «ن»؛ ۴۸ ــ ۳۱، ۳۵ ــ ۶۷ «ن»؛ ۳۲- ۳۲، ۸ ــ ۶۶ «ن» ؛ ۲۳- ۳۲، ۱۰ ــ ۶۷ «ن»؛ ۱۲ ــ ۳۲، ۱۱ ــ ۶۶ «ج»؛ او ۸ ــ ۳۲، ۷ ــ ۶۶ «ن»

**تنګی:** ۵۱ ــ ۳۰، ۵۵ ــ ۶۵ «ج»: دا له جت پوټې څخه تر کندهار پورې د سړک پر غاړې يو غر دی. دلته يو ځای دی چې پخوا د دمې نيولو ځای وو، د دې ځای اوبـۀ د ښاهانو دي او همدا شان د اوښانو لپاره ښـۀ څړ ځای لري. دا غر له جت پوټې څخه ۷۲ مايله ليرې دی. «هنل، ۱۸۸۱ او روم، ۱۸۹۶ ، له بومي معلوماتو څخه»

**تنګی:** ــ ۳۲، ــ ۶۷: نقشه په دې نوم يو کوتل ښيي چې د «کوهٔ سرخ» (سورغر – ژ) له سره د «سپير سنګ» د کوتل او د «روغاني» تر منځ سيمې باندې منتهي کيږي.

* **تنګـک:** ۴۹ ــ ۳۱، ۱۹ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د شهرِ صفا د شمال ختيځ په تقريباً ۳ مايلۍ کې د کندهار- قلات له سړکه تقريباً ۱ مايل ليرې يو کلی دی.

**تنګه خولـۀ:** ۴۲ ــ ۳۱، ۴ ــ ۶۸ «ج»: دا د کند د سيند په شمال کې د ښاهانو يوه تولګه ده چې او د هغـۀ سړک پرغاړې واقع دي چې سړک په کافر چاه منتهي کيږي. ويل کيږي چې دلته په دوبي کې واښـۀ او بوټي په ډيرې لوړې ونې/ قد وده کوي. «بن»

**تنګلـي:** ۴۵ ــ ۳۱، ۲۶ ــ ۶۵ «ن»: دا يو کوتل دی چې د مير هزار له کلي څخه لاره د سينجيري د شمال لويديځ پر لور تر «سور خاني» [31] او د خاکريز په درې کې تر «دوخانه» پورې د خاکريز له غرونو څخه تيريږي. دا لاره د دې کوتل له لارې «مير هزار» ته نيږدې پر غرونو ننوځي او تر ۲/۱ ۱ مايل پورې ښه او مخ خلاصې لاره ده، په همدې واټن کې لاره د «ملا مرده» کوتل ته رسيږي، د ملا مرده کوتل، زموږ دا کوتل د پيشي د کوتل له شمالي انتها سره نښلوي. د تنګلي سړک دلته له هغه خط الرأس څخه تيريږي چې د «توت کوتل» په نوم ياديږي او بيا د تنګلې پر ناوې ورکوزيږي، دا ناله د اوبو لوی بهير دی چې د ۲۵ ياردو په ارتوالي بستر کې د مير هزار پر لور چې له درويو يا نی څخه ډک دی بهيږي. دا لاره په همدې نالې ان د نالي سرته نيږدې ځای پورې ورخيږي او بيا له يوۀ تيټ خط الرأس څخه په تيريدلو سورخاني ته ورکوزيږي چې د کوزيدلو لاره ئې ډيره آسانه ده. له کوتل څخه تر دې خط الرأس پورې واټن له سورخاني پورته ۲/۱ ۵۱ مايله دی. د ميرهزار له خولې څخه د توت د کوتل تر تقريباً ورهاخوا پورې د سړک په اوږدو کې په دواړو غاړو کې غرونه لوړ، ستوغ او په ځينو ځايونو کې په سختۍ د لاسرسۍ وړ دي خو له دې ټکي ورهاخوا د تنګلي ناله د خپلې سرچينې پر لور مخ خلاصې ده او غرونه تر هغو پورې ټيټ کيږي چې له سورخاني پورته خط الرأس ته ورسيږي. له څلورو مايلو وروسته اوبـۀ نـۀ سته، او په سور خاني کې نـۀ سو کولای په اوبو باندې ډېره ولګوو، نيږدې ترينه ځای چې د اړتيا وړ توکي ورڅخه تر لاسه کيږي په «لوخانه» [32] کې ده چې ۴ مايله وړاندې د خاکريز د درې په مرکز کې واقع ده. د کوتل له منځه لاره که پراخه سي کيدای سي د توپونو د ليږد لپاره عملي لاره وګرځي. د توت د کوتل ته ختل او له هغـۀ ځايه له کوتله کښته کيدل د تنګلي د نالې پر لور د لينس په خبره د کوتل د برخې دا لاره تر ټولو شيوه او مخ پر ځوړ ده او لينس وايي چې "«سخته» لاره ده خو د توپچي ځواک د تګ لپاره غير عملي نـۀ ده." «لينس»

---

[29] - Jullundur Kala

[30] - Pashghbargai

[31] - Surkhani and Dokhana

[32] - Lokhana



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**تنگ ریز**: ۵۶ ـــ ۳۱، ۲۳ ـــ ۶۵ «ن»: دا د الکوزیو د ۱۵ کورنو یو کلی دی چې په خاکریز کې د شاه بید د غرنۍ لړۍ لمنې ته نیږدې چې د شاه مقصود د لړۍ تر ټولو غرونو لوړ دی، واقع دی. د اپریل په میاشت کې د جنرال پالیسر ځواکونو دلته دمه وکړه او د سروې ډله د غرهٔ څوکې ته وختله. د خاکریز د درې په پورتنۍ انتها کې د سړک له لارې د اسد له کلا څخه واټن ۱۴ مایله دی. «لینس»

**تـَـوده چینه**: دا د دوماندې ـــ غرنې سړک پر غاړې له دوماندې څخه ۲۲ مایله لیرې د اوبو یوه چینه ده. «بومي سروې کوونکی ۱۹۰۴»

**تره کي**: ـــ ۳۰ ، ـــ ۶۶: دا په ختیځ کې له ښوراوک څخه تر نوشکي پورې د قافلې د لارې په اوږدو کې د اوبو یوه چینه او د دمې نیولو یو ځای دی. د سرلت د غرنۍ لړۍ په لمن کې د سیاه سنگ او قمبرکوه تر منځ دوه کوچنۍ، خو ډیرې ځرگندې، تورې ډبرې دي چې د «آلاغ» [33] په نوم یادیږي. له دغو ډبرو کوز په بیخ کې یوه کوچنۍ ویاله بهیږي چې قافلې همدلته دمه کوي. داسې ښکاري چې دا ځای له نوشکي څخه تقریباً ۱۵ مایله او په همدومره واټن له یار محمد یا په ښوراوک کې له سالارزیو څخه واټن ولري. کیدای سي دا هماغه چینه وي چې تورن اچ ویلي د خپلې لارې په اوږدو کې د «چیني» په نوم یاده کړې ده. «میټلند»

**تره کي**: دا دغلزیو یوه اساسي څانگه ده. د تیورې د تره کیو لپاره وگورئ: " تیوره"

**تري**: ۷ ـــ ۳۲، ۱۷ ـــ ۶۶ «ج»: دا له قلات غلزایي څخه تر کندهار پورې د ارغنداب د درې له لارې د سړک پر غاړې د دهلې په ولسوالۍ کې د دمې نیولو یو ځای دی. دا ځای د ارغنداب د سیند په ښي غاړې کې په هغهٔ ټکي کې واقع دی چې ارغنداب د «کروي» [34] له سیند سره له قلات غلزایي څخه د ۲/۱ ۴۴ مایلو په لیرې والي یو ځای کیږي. د ۱۸۷۹ز کال د فبرورۍ په میاشت کې له دې ځایه هیڅ د اړتیاوړ توکي تر لاسه نـهٔ سول. «بیسکو، گیسلې»

* **تارج**: ۲۳ ـــ ۳۳، ۱۹ ـــ ۶۶ «ن»: دا د روزگان په ولایت کې د گیزاب د شمال ختیځ په تقریباً ۴ مایلۍ کې د یوهٔ سیند پر غاړې یو کلی دی. ختیځ ته ئې په همدې نوم یو غر هم ولاړ دی.

**تره کي قلعچه**: تاریکي قلعچه: ـــ ۳۱، ـــ ۶۵: دا هغه کلی دی چې بریدمن تمپل له کندهار څخه د ارغسان په درې کې د امین تر کلا پورې د سړک پر غاړې په مهمند کې د ترلاسه کیدونکو د اړتیاوړ توکو په اړوند یاد کړی دی. «تمپل»

* **ترین**: وگورئ: تیرین

**ترکار کیسر؟** [35]: ـــ ۳۱، ـــ ۶۸: دا له «تره کي تیورې» څخه تر «مقر» پورې د سړک پر غاړې د دمې نیولو یو ځای دی. دلته د تره کیو څو کلي دي. «بومي معلومات، ۱۸۹۲»

**ترنک**: ۲۶ ـــ ۳۱، ۳۱ ـــ ۶۵ «ن»: دا ولسوالۍ په ځان کې د ترنک د سیند دره رانغاړي چې له خیل آخوند څخه تر قلات غلزایي پورې غځیدلې ده او د ارغنداب دره د خشک رود له درې څخه د غرونو د موازي لړیو په وسیلې له دواړو خواوو جلا کوي. د دې درې استوگن وگړي درانیان دي او یو لږ شمیر توخي غلزي هم په کې استوگن دي. پریمانه د اړتیا وړ توکي په ځانگړې توگه د تیر انداز او جلدک تر منځ سیمې کې ترلاسه کیدای سي؛ دلته په دوبي او منې کې پریمانه اوبش ـــ اغزي یا شتر خار وي. د اساسي درې لوړوالی د ۳۹۰۰ او ۵۰۰۰ فیټو تر منځ دی. جلدک: ۴۸۹۰ فیټه او خیل آخوند ۳۹۰۱ فیټه لوړوالی لري. «آی. بي. سي.» دلته یو دولتي گودام چې ۵۰۰ خرواره غلات زیرمه لري هم سته. «بومي معلومات، ۱۹۰۵»

**ترنک**: ۲۶ ـــ ۳۱، ۳۱ ـــ ۶۵ «ن»: دا د یوهٔ سیند نوم دی چې مقر ته نیږدې سر راپورته کوي او مخ پر سویل لویدیځ بهیږي او د کندهار د سویل لویدیځ په تقریباً ۲۵ مایلۍ کې ارغنداب ته ورغورځي. د وروستیو کمپاینونو په لړ کې ترنک له خپلې سرچینې څخه په مقر کې او وروسته له دې چې د ارغسان او دورۍ اوبـهٔ په ځان کې راټولې کړې له ارغنداب سره تر یو ځای کیدلو پورې پلټل سوی او تگ راتگ وربانديې سوی دی. د دې سیند سرچینه د مقر د کلي په شمال کې د یوې دنگې ډبرې په لمن کې ده، همدلته د اوبو یو لوی ډنډ دی چې د شیږو یا اوو چینو اوبـهٔ په کې راټولې سوې دي او ویل سوي چې همدا د ترنک د سیند سرچینه ده. د ترنک اوبـهٔ له همدې ځایه د یوې مخ خلاصې درې له منځه ان تر قلات غلزایي پورې بهیږي. له دې ټکي ورهاخوا سیند د یوې ډیرې منقبضې درې له منځه بهیږي او هرڅومره چې د سویل پر لور پر مخ ځي د سیند بستر په چټکۍ سره له لوړوالي سقوط کوي او د کندهار په دښتې کې راوځي، دا سیند د کندهار د ښار د سویل په اتـهٔ مایلۍ له کندهاره تیریږي او بیا له ارغنداب سره یو ځای کیږي.

ښاغلی کینیډي چې له کندهاره د ترنک د سیند تر سرچینو پورې د ترنک د سیند د بهیدا بهیر تر ۱۵۰ مایلو پورې پل و گام کړی وایي چې د همدومره واټن په ټولو اوږدو کې مې د سیند د غږغړاندو اوبو لوړ غږ اوریدلی چې د یوې درې په منځ کې، د متوسط الارتفاع غرونو په منځ کې له ۱ ان تر ۶ مایلو پورې ارت کیږي؛ د ترنک د سیند بستر زښت ډیر

---

33 - Allagh

34 - Karwai stream

35 - TARKAR-KA-SIR


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړلیچن دي چې د درې له یوې خوا څخه ان بلې خوا ته اوږي را اوړي او په دې سره خپل واټن تقریباً دوه ځله زیاتوي. کینډي وایي چې د سیند د بستر سقوط نـهٔ سي کیدای چې له ۶۰۰۰ فیټو لږ وي خو کینډي په خپلې خبرې کې ظاهراً تیر وتلی دی ځکه چې د ترنک د سیند د سرچینې لوړوالی په خپله ۷۰۴۰ فیټه دی «مقر په خپله یوازې ۵۳۶۱ فیټه لوړ دی»، او له ارغنداب سره د یو ځای کیدنې ټکې بناییي له ۲۵۰۰ فیټو ډیر لوړ نـهٔ وي چې په دې سره د تقریباً ۲۵۰ مایلو په واټن کې د سیند د بستر سقوط یوازې ۴۵۰۰ فیټه او یا په هر مایل کې ۱۸ فیټه دی.

د ترنک د اوبو د بهیدا د بهیر په اوږدو کې په ځینو ځینو ځایونو کې بندونه جوړ سوي دي او اوبـهٔ ئـې د ځمکو د خړوبولو لپاره په نهرونو کې راګرځول سوي دي؛ نتیجتاً په تودې هوا کې دا سیند تقریباً په بشپړ ډول وچیږي. د سیند په اوږدو کې پریمانه کرهڼه سوې ده او ښو کلي هم لري دا کلي معمولاً د سړک له غاړې ۴ یا ۵ مایله لیرې په کوچنیو درو کې دي.

سیند په «تازي» [36] کې له ختو او چقړو ډک دی، دلته له ۵۰ تر ۶۰ فیټو پورې ارت دی؛ د سیند غاړې د هماغـهٔ لوړوالي یو پر دریمه لوړې دي. سیند په آخوند خیلو کې د اوبو یو کم عمقه بهیر دی، دلته د سیند غاړې تکې شنې دي؛ دا غاړې د شین غزي بوټو تکې شنې ګرځولې دي. په هغـهٔ ټکي کې چې سیند له کندهار څخه ۱۹ مایله لیرې تیریږي سیند کم عمقه دی او د  شګلنو خاورو د غاړو په منځ کې چې  مخ په غورځیدو او ټوټه ټوټه کیدو دي بهیږي.

ترنک کیدای سي له سیلابي وختونو پرته، د خپل ټول بهیر په اوږدو کې په هرې برخې کې د تیریدلو وړ وي. «کانولي، میسن، کینیډي، هف، هیف لاک، اوترام، بیلو»

* **تارو**: ۳۷ ــ ۳۲، ۶ ــ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د «شکسته ماندې» [37] د التصاق په ټکي کې د ارغنداب د سیند پر غاړې یو کلی دی.

**ټرون**: [38]: ۴۸ ــ ۳۱، ۳۵ ــ ۶۸ «ن»: دا د «تره کي تیورې» په شمال لویدیځ کې یوه دښته ده چې ۱۰ مایله اوږدوالی او په خپلې سویل لویدیځې انتها کې ۷ مایله ارتوالی لري خو «شاه غر» او د «پینکي» [39] غرنۍ لړۍ چې دا دښته په کې محصوره ده د سویل ختیځ پر لور یو شان کیږي او دلته یوازې تقریباً ۲ مایله ارته ده. دا دښته په بشپړ ډول له وښو محرومه ده خو ترخه او نور بوټي په کې پریمانه دی. دلته د اوبو د نـست والي له کبله کوم کلی نـهٔ سته. د دښتې په شمالي انتها کې د هند - افغان سرحدي کرښه تللې ده. «بن. آی. بي. سي.»

* **تاتار**: ۲۰ ــ ۳۲، ۳۶ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د شین غر په شمال کې د نېش د سویل لویدیځ په تقریباً ۷ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **تا ترین**: ۱ ــ ۳۲، ۹ ــ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د حسن زیو د سویل لویدیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې د ارغنداب د سیند پر غاړې یو کلی دی.

* **تـزغاو**: ۵۶- ۳۳، ۱۰ ــ ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «چهارصد خانې» [40] سویل ته د تللې لار په اوږدو کې د هلمند د سیند د سویل په تقریباً ۱ مایلۍ کې یو کلی دی.

**تازي**: ۲۳ ــ ۳۲، ۱۶ ــ ۶۷ «ج»: لوړوالی: ۵۸۴۹ فیټه. دا د قلات غلزایي د ولسوالۍ یوه علاقه داري ده.

په دې نوم د دمې نیولو ځای له قلات غلزایي څخه ۲۸ مایله لیرې د غزني د سړک پر غاړې د تر نک د سیند په ښۍ غاړې کې موقعیت لري.

د کمپ معموله سیمه چې د ۱۸۷۹ز کال د اکتوبر په میاشت کې د ډګر جنرال هیوز تر مشرۍ لاندې لیوا د دوه وو اونیو لپاره نیولې وه غزني ته د تللي سړک پر کیڼې غاړې وه. دلته ډیره مخ خلاصې سیمه سته چې یوهٔ لوی ځواک ته ښـهٔ ځای ورکولای سي.

د ۱۸۸۰ز کال د اپریل په میاشت کې د سر دونالد سټیوارټ فرقې هم دلته دمه وکړه. دلته له سیند څخه اوبـهٔ تر لاسه کیدای سي، دا سیند د کمپ سیمې ته نیږدې بهیږي او د کمپ په ګاونډ سیمه کې لویه حاصلخیزه ځمکه هم سته. د دې ځای استوګن وګړي چې اکثریت ئـې توخي غلزي دي په ۱۸۷۹ ــ ۸۰ ز کال کې ئـې په خپله خوښه یا داوطلبانه توګه د اړتیا وړ توکي برابر نـهٔ کړل، وروسته د خوراک توکو د راټولولو ډلې د زموږ د پوځ  ډډلګیو په ملتیا کلیو ته ولیږل سوې او د اړتیاوړ ضروري توکي سملاسي د پیسو د ورکړې په بدل کې راټول سول. کله چې د جنرال هیوز لیوا دلته دمه سوې وه د اړتیا وړ توکو ته د اړتیا پر بنسټ ټولو ګاونډیو کلیو په خپل وار سره د نوموړي جنرال ځواک ته کومه سختي او ستونزه پیدا نـهٔ کړه. د ترنک د سیند پر کیڼې غاړې کلي چې لاس په لاس نیږدې ول او د اړتیا وړ توکي

---

[36] - Tazi

[37] - Shekasta Mandeh

[38] - TARUN

[39] - Shah Ghar and Pinakai ranges

[40] - Chaharsadkhana


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ورڅخه ترلاسه سول دا ول: تازي، لالا شاهد/ شهيد، تخت ګل ګونډي او مالغ. «توخي پتو زي» [41] هم د سيند په کيني غاړې کې کلي لري خو هغوی له دې ځايه ۷ يا ۸ مايله ليري دي؛ د دوی عمده کلي دا دي: عبدالله، خواجه خيل، ملا دادين، «اوک کاس/ عکاس» [42] او سپينه تيره. د کمپ شمال ته، د سيند په ښي غاړه کې «۳ مايله ليرې» دوه نور دي چې «آشيګي» [43] عبدالحبيب نوميري چې پريمانه د اړتيا وړ توکي لري. تازي له شاه جوی څخه ۱۲ مايله ليري ده چې د غزني د سړک په اوږدو کې راتلونکی د دمی نيولو ځای دی. «آی. بي. سي.» د *«تازي غبرګی» [44] په نوم کلی په ۳۷ ـ ۳۱، ۲۲ ـ ۶۶ «ن» کې موقعيت لري.*

**تاره خار**: ۳۲- ۳۱، ۱۰ ـ ۶۶: دا يوه پلنه، مستطيلي، توره پربنه ده چې د ارغسان د سيند پر ښی غاړه د «سګزي» [45] کلي ته نيږدې واقع ده. «آی. بي. سي.»

**تيک**: ۵۲ ـ ۳۱، ۲۸ ـ ۶۵ «ن»: دا د خاکريز په درې کې يو کلی دی. «لينس» دا کلی د شاه مقصود د سويل په تقريباً ۸ مايلی کې واقع دی.

* **تل به**: ۵۳ ـ ۳۲، ۱۴ ـ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د کميسان د سيند د يوې څانګې پر غاړې د چوره د ختيځ په تقريباً ۱۲ مايلی کې يو کلی دی.

* **تليري**: ۳۵ ـ ۳۱، ۱۵ ـ ۶۷ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د معروف په سويل ختيځ کې د معروف د سيند او د «کوتکي غر» [46] تر منځ نيمايي لاري کې يو کلی دی. *په دې نوم نور کلي په ۲۷ ـ ۳۱، ۱۶ ـ ۶۷ «ن» او ۴۹ ـ ۳۱، ۳۶ ـ ۶۷ «ن» کې موقعيت لري.*

**تيلو کان: يا: تلوکان**: [47]: ۲۶ ـ ۳۱، ۱۹ ـ ۶۵ «ن»: دا له کندهاره ۲۴ مايله ليري د ارغنداب او ترنک د سيندونو د يو ځای کيدني د تکي پر لور له پنجوايي تقريباً ۸ مايله ورهاخوا د ارغنداب د سيند پر غاړه يو کلی دی. «بيسکو» *په دې نوم يو بل کلی د معروف په سويل ختيځ کې په ۱۵- ۳۱، ۲۶ ـ ۶۷ «ج» کې موقعيت لري.*

* **تيمور خونه**: ۲۹ ـ ۳۲، ۴ ـ ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولايت کې د ارغنداب د سيند سويل ته د تللي لاري پر غاړې د فصيل د سويل په تقريباً ۵ مايلی کې يو کلی دی.

**تير انداز منار**: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا له ۳۵ تر ۴۰ فيټو په لوړوالي د پخو خښتو يو کتار دی چې له کندهار څخه ۵۴ مايله، او له قلات غلزايي څخه ۳۳ مايله ليری دی. ګومان کيږي چې دا ځای احمد شاه دراني ودان کړی دی چې له خپلې ليندۍ څخه د ويشتل سوي غيشي د لويدلو ځای ورباندي په نښه کړي. ميسن فکر کوي چې ښايي د دې ځای د ودانولو نيته تر منسوبې نيتې لا هم لرغوني وي ځکه د دې ځای په دنګو برخو کې د پخوانيو ودانيو نښې يا آثار سته.

د خښتو دغهٔ کتار ته نيږدې يوه ښکلې دښته سته چې د ۱۸۷۹ او ۱۸۸۰ز کلونو په لړ کې مداوماً د کمپ د سيمې په توګې کارول کيدله. ګرد چاپيره سيمه حاصلخيره نهٔ ښکاري خو د اړتيا وړ توکو په راټولولو کې کومه سختي نهٔ سته. د ترنک د سيند په کيني غاړې کې چې رسيدل ورسته آسانه دي ځو کلي سته. د دوبي او مني پر مهال دلته پريمانه جوسه، شتر خار او يو شمير شين غزي د سيند په بستر کې دي. د ۱۸۷۹ز کال کې د جنوری په مياشت کې زموږ ځواک د «امير» په کلي کې د رنو اوبو د وياڵې پر غاړې دمه سوو چې د قلات غلزايي پر لور د سړک د کيني غاړې په ۲/۱ ۱ مايلی کې موقعيت لري. «ميسن، آی. بي. سي.» *افغان ګزيټر په دې نوم يو ځای په ۱۵ ـ ۳۱، ۳۰ ـ ۶۶ «ج» کې ښيي.*

( دغه ځای اوس د "غشي رباط" بولي. ژ )

## نور بيا

**ترين: يا: تيرين کوټ**

**يادونه**: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندې د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کې د لمړی توک، دوېم توک، دريم توک او د ځلورم توک تولي برخي لوستی شئ.

41 - Tokhi Patozai
42 - Ukkas
43 - Ashegai
44 - Tazi Ghbarga
45 - Sagzai
46 - Kotkai Ghar
47 - TILUKAN Or TALUKAN


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ